محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۹/۱۹

# راډيويي ړغ، روښانه څېره، لوړ استعداد او ورین تندی

ډاکټره شافعه سردار په ۱۳۳۹ل کال د کندهار ښار د ملا ګلداد کوڅې په یوه علمي او روڼ اندې کورنی کې زیږېدلې ده

پلار يې حاجي محمود هوتک نومیدی .

د تاریخي جریدې (طلوع افغان) مؤسس (مولوي صالح محمد هوتک) يې د مور پلار(نیکه) دی.

شافعه، د هیواد په سطحه دپیژندل سوي محتاط لیکوال اوڅیړونکی استاد محمد معصوم هوتک کشره خور ده .

دا، په ۱۳۴۶ل کال زرغوني انا لومړنی ښوونځي ته شامله او په ۱۳۵۸ل کال د کندهارښار د زرغوني انا له عالي لېسې څخه فارغه سوې ده .

شافعه سردار په ۱۳۵۹ل کال د کانکور ازمويني له لاري کابل پوهنتون فارمیسي څانګې ته شامله او

په ۱۳۶۳ل کال له يادې څانګې څخه په ښو نومرو فارغه سوه .

له فراغت وروسته کندهار ته راغله او دلته يې په میرویس حوزوي روغتون کې د ناروغانو خدمت ته ملا وتړله .

سردار، پر مورنی ژبه پښتو سربیره په دري، اردو او انګلیسي ژبو رواني خبری کولای سي.

شافعه په هیواد کې د جګړو او ناامنیو له امله په ۱۹۸۹م کال د نورو هیوادوالو په ډول وطن پرېښوولو ته اړه سوه .

دري کاله يې د پاکستان په کراچۍ ښارکې تریخ ژوند تیرکړ او وروسته له خپلي کورنی سره يوځای په ۱۹۹۳م کال د امریکا متحده ایالاتو ویرجینیا ښار ته مهاجره سوه .

شافعي امریکا متحده ایالاتو ته له مهاجرت څخه یوڅه وخت وروسته په دغه هیواد کې د افغانانو په یوې سیمه ییزې شخصي راډیو( د افغانستان ږغ) کار شروع کړ اوپه ۲۰۰۱م کال د امریکا ږغ راډیو د هغه وخت د پښتو څانګې مسؤلي سپوږمۍ میوندي په لارښوونه امریکا ږغ نړېوالي راډیو ته لار پیداکړه، چې اوس په یاده راډیو کې رسمي پروډیوسره اونطاقه ده .

دا وایي، د هرهغه مطبوعاتي افغان کارونه يې خوښیږي، چې د هیواد په سختو حالاتو کې د ولس د راویښولو لپاره د موضوعګانو تل ته ځان رسوي او دولت ته روښانه کوي، چې ولس په څه حالت کې دی اود فسادربیني چیري غزېدلي دي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

زموږ ددې اوونۍ مطبوعاتي څېره وايي، امریکا ږغ راډيو کي مشر شاعر عبدالباري جهاني او بختيار شاه زياته مرسته ورسره کړې ده .

شافعه سردار د مطبوعاتي کارونو په دوران کي له ډيرو خاطرو سره هم مخامخ سوې ده، خو هغه ورځ يې هيڅ نه هيريږي، چي په اول وار د امريکا ږغ راډيو سټوډيو ته د امتحاني خبر ويلو لپاره ولاړه.

»په هغه ورځ مرحوم سعدالدين شپون زما د اواز امتحان لپاره يو خبر راکړ، زه سټوډيو ته ولاړمه، چي راکول سوی خبر ووايم، شپون صاحب له سټوډيو دباندې راته ولاړ و .

خبر، چي مي ووايه، له سټوډيو راووتمه، نو شپون صاحب راته وويل: شافعې داخو ته ډېره بلا يې! ستا په اواز کي هم ډول ؤ هم سرنی.

ماته داسی عجيبه معلومه سوه او پوښتنه مي ځيني وکړه. شپون صاحب دا څنګه ؟

ده ويل: د يو خبريال په اواز کی بايد هم ډول وي او هم سرنا، يعنی خبريال بايد خوش اوازه وي، ستا په اواز کي هم ډول دی هم سرنی .

دا ماته څکه عجيبه معلومه سوه، چي موږ په کندهارکي دا اصطلاح نه لرو« .

سردار، له مطالعي سره ژوره علاقه لري او په ورځ کي خامخا يو يا دوه ساعتونه کتابونه لولي ،په مطالعه کي يې شعرونه، ادبي څيړني او مطبوعاتي ليکني خوښي دي او اکثره وخت د راډيو په ادبي خپرونو کي هم د ځينو ځوانو او په عمر پخو شاعرانو شعرونه په خدای ورکړي په زړه پوري ږغ ديکلمه کوي .

زموږ ددې اوونۍ مطبوعاتي څېره د خپلو ښو مطبوعاتي کارونو او ښه اواز له امله د خپل دفتر اوهم د امريکا ږغ راډيو د اوريدونکو لخوا په څو واري تقدير سوې ده .

شافعه زياتوي: « لويه مطبوعاتي هيله مي  داده، چي د ژوند تر اخره پوري د مطبوعاتو له لاري خپلو هيوادوالو ته نور خدمتونه هم وکړمه .

که زما ددغو خدمتو په سبب د يو افغان په ژوند کي مثبت بدلون راسي،نو زما هيله به پوره سوې وي «.

نوموړې له ځوانو خبريالانو غواړي، چي د خبريالی مسلک سپيڅلی وساتي، په خپله مورنی لهجه له خپلو اوريدونکو، ليدونکو سره وږغيږي او په رښتيا سره يوازي د خپل ولس لپاره کار وکړي .

شافعه سردار په ۱۳۶۳ل کال کي يې له خپل ټولګيوال ډاکټرسردارمحمد سره واده کړی، نو څکه له خپل نوم سره د (سردار) تخلص ليکي .

د واده ثمره يې يوه لور ( مينه) او يو زوی ( ګرندی) دی، چي دواړو په امريکا کي دماسټرۍ ترکچې پوري لوړې زده کړې دي.

۲۰۱۹ جولايي ۲۸
کندهار ښار، علامه حبيبي واټ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ